د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

دوشنبه ۱۱ رجب ۱۴۴۰هـ | ۱۸-۰۳-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۷

**مطبوعاتي اعلاميه**

## يوازې خلافت په افغانستان کې د غرب جنګي جنايتونه بربنډ او غابن ماتوونکی ځواب ورکولی شي

د امريکا د بهرنيو چارو وزير ويلي چې هېواد يې د نړيوالې جزايي محکمې څارونوالانو ته، چې غواړي په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو د جنګي جنايتونو د تورونو د څېړنې لپاره امريکا ته سفر وکړي، وېزه نه ورکوي. ده زياته کړې، که دغه محکمه خپل چلند بدل نه کړي، اقتصادي بنديزونه هم ورباندې لګوو.

امريکا په داسې حال کې د نړيوالې جزايي محکمې له څېړنو وېره لري چې دغه هېواد په افغانستان کې "د تروريزم پر وړاندې مبارزې" په نامه وحشيانه جنايتونه تر سره کړي دي. امريکا د تېرو ۱۸ کلونو په بهير کې نيم ميليون افغانان وژلي او ټپيان کړي، مخفي زندانونه يې جوړ کړي، چې له زندانيانو سره يې خورا بد چلند پکې کړی او د افغانستان د مسلمانانو پر شخصي حريم او ديني مقدساتو يې تېری کړی دی. په افغانستان کې د امريکا جنګي جنايتونه دومره وحشتناک دي، چې حتی د شوروي اتحاد هغه يې شرموولي دي. دلته څرګندېږي چې امريکا نه غواړي په افغانستان کې د دغه هېواد د جګړې، ظلم، جنايتونو او جرمونو حقيقت ډاګيز شي.

له بلې خوا امريکا د ډيموکراسۍ او بشري حقونو شعار ورکوي، خو کله يې چې ګټې په خطر کې وي، حتی د څېړنې اجازه هم نه ورکوي. دا حالت ښيي چې دغه شعارونه هغه وسايل دي چې يوازې د غرب ولکه او ګټې تضمينوي.

پاتې دې نه وي چې نړيواله جزايي محکمه هم کمزورې ده او نه شي کولی چې د امريکا د جنګي جرايمو په اړه څېړنه وکړي او د جنايتونو اصلي عامل محکوم کړي؛ ځکه دغه سازمان خپله د نورو نړيوالو سازمانونو غوندې د مجرمو غربي قدرتونو د سياسي اجنډا په خدمت کې دی او ځينې وخت يو پر بل د فشار د يوې وسيلې په توګه کارول کېږي، چې اوسمهال پر امريکايانو د اروپايانو د فشار وسيله ګرځېدلې ده.

په واقعيت کې يوازې خلافت دولت په اسلامي خاورو کې د غرب جنګي جنايتونه ډاګيزولی او غابن ماتوونکی ځواب ورکولی شي او د مسلمانانو د خاورې، وينې، عزت او مقدساتو ساتنه کولی شي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**